د افغانستان اسلامي جمهوري دولت لویه څارنوالي

لوی‌څارنوالی دولت جمهوری اسلامی افغانستان

# د څارنوالانو د مسلکي معیارونو او چلن کړنلاره

# طرزالعمل معیارهای مسلکی و طرز سلوک څارنوالان

اسد ۱۳۹۹ خورشیدی

بسمه تعالی

تصویب طرزالعمل معیارهای مسلکی و طرز سلوک څارنوالان
را مبارکباد میگویم.

وظیفهٔ با افتخار څارنوالی یک نعمت بزرگ و یک فرصت
خدا دادی برای خدمت گذاری و رستگاری است.

څارنوال باید در خانه، در محیط اجتماعی، در محیط کاری و در
اوقات رسمی و غیر رسمی نمونه و مشمول اخلاق
متعالی، حوصله مندی، برخورد نیک، تواضع و صلابت
مشروع و قانونی باشد.

از بارگاه رب العزت متعال برای همهٔ همکاران عزیزم
صحتمندی، موفقیت و کامگاری استدعا میکنم.

څارنپوه محمد فرید حمیدی
لوی څارنوال دولت جمهوری
اسلامی افغانستان

**دافغانستان اسلامي جمهوري دولت**
**د لويې څارنوالۍ عالي شورا**

د څارنوالانو د مسلکي معيارونو او چلن کړنلاره د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، د لويې څارنوالۍ عالي شورا د ۲۷/۷/۱۳۹۹ نېټې په غونډه کې تصويب شوه.

**شورای عالی لوی څارنوالی**
**دولت جمهوری اسلامی افغانستان**

طرزالعمل معيارهای مسلکی و طرز سلوک څارنوالان در جلسۀ مورخ ۲۷ / ۷ / ۱۳۹۹ شورای عالی لوی څارنوالی دولت جمهوری اسلامی افغانستان به تصويب رسيد.

## د څارنوالانو د مسلکي معیارونو او چلن کړنلاره فهرست


| عنوان | د مادو شمېر | مخ |
|---|---|---|
| لومړی څپرکی: ریښه | ٤ مادې | ۱ |
| دویم څپرکی: د څارنوالانو د مسلکي معیارونو او چلن کړنلاره | ۱٦ مادې | ۸ |
| درېیم څپرکی: متفرقه احکام | ۳ مادې | ۲۵ |


## فهرست طرزالعمل معیارهای مسلکی و طرز سلوک څارنوالان


| عنوان | تعداد ماده‌ها | صفحه |
|---|---|---|
| فصل اول: احکام عمومی | ٤ ماده | ۱ |
| فصل دوم: طرزالعمل معیارهای‌مسلکی و طرز سلوک څارنوالان | ۱٦ ماده | ۸ |
| فصل سوم: احکام متفرقه | ۳ ماده | ۲۵ |

## لومړی څپرکی

## عمومي احکام

### لومړۍ ماده

**ریښه:**

دا کړنلاره د څارنوالۍ د تشکیل او واکونو د قانون د شپږدېرشمې مادې پر بنسټ وضع شوې ده.

### دویمه ماده

**موخې:**

دا کړنلاره د لاندینیو موخو د ترلاسي په هدف جوړه شوې:

۱- د څارنوالانو د مسلکي معیارونو تنظیم او د سلوک ډول.

۲- د خپلواکۍ او بې پرېتوب ساتنه او له هر ډول تبعیض څخه ډډه کول.

۳- د څارنوالانو د مسلکي معیارونو د سرغړاوي د چارو او چلن تنظیم.

٤- د روښتیا تامین، د قانون واکمنې او په ورسپارل شویو

## فصل اول

## احکام عمومی

### مادۀ اول

**مبنی:**

این طرزالعمل به تأسی از حکم مادۀ سی‌وششم قانون تشکیل و صلاحیت څارنوالی وضع گردیده است.

### مادۀ دوم

**اهداف:**

این طرزالعمل دارای اهداف ذیل می‌باشد:

۱- تنظیم معیارهای مسلکی و طرز سلوک څارنوالان.

۲- حفظ استقلالیت، بی‌طرفی و خودداری از هر نوع تبعیض.

۳- تنظیم امور تخلفات از معیارهای مسلکی و طرز سلوک څارنوالان.

٤- تأمین شفافیت، تحکیم قانونیت و تطبیق عدالت در

دنـدو کـې د عدالـت تطبيـق.

۵- د لويــې څارنوالــۍ پـر اجرااتــو او کړنـو د خلکـو د بـاور زياتوالـی.

**درېيمه ماده**

**د تطبيق ساحه:**

د دې کړنـلارې احـکام پـر ټولـو ملکـي او نظامـي څارنوالانـو د تطبيـق وړ دي او بايـد رعايـت يـې کـړي.

**څلورمه ماده**

**اصطلاحات:**

د دې کـړلارې لاندينـي اصطلاحات پـه دا ډول تعريفېـږي:

۱. مسـلکي معيارونـه: مسـلکي معيارونه مسـلکي پوهـې، وړتيـا او د قضيـو د پلټنـې او +څـار پـه برخـه کې مهارت، د مسـلکي اجرااتـو پـه برخـه کـې دقـت، سرعـت، او روڼتيـا تـه وايـي.

۲. چلـن: چلـن د دنـدې او لـه

وظايـف محولـه.

۵- افزايـش سـطح اعتـماد مـردم بـه اجـراآت و عمل کـرد لوی څارنوالـی.

**مادۀ سوم**

**ساحۀ تطبيق:**

احـکام ايـن طرزالعمـل بـالای عمـوم څارنـوالان ملکـی و نظامـی قابـل تطبيـق بـوده و مکلـف بـه رعايـت آن میباشـند.

**مادۀ چهارم**

**اصطلاحات:**

اصطلاحـات آتـی در ايـن طرزالعمل دارای مفاهيـم ذيـل میباشـد:

۱. معيارهـای مسـلکی: عبـارت از دانـش مسـلکی، توانايـی و مهـارت تحقيـق و تعقيـب قضايـا، دقـت، سرعـت و شـفافيت در اجـراآت مسـلکی میباشـد.

۲. سـلوک: عبـارت از گفتـار، رفتـار و

دندي بهر د څارنوالانو وينا، سلوک او اخلاقي کړنو ته وايي.

کردار اخلاقی څارنوال، حین اجرای وظیفه و خارج از وظیفه می‌باشد.

## دویم څپرکی

## د څارنوال مسلکي معیارونه او چلن

### پنځمه ماده

**له انحراف پرته پر قوانینو پوهاوی او د قوانینو سم تطبیق:**

څارنوال باید د قوانینو پر شکلیاتو او محتوا پوه وي او په خپلو اجرااتو کې باید اساسي قانون او نور اړوند قوانین پلي کړي.

### شپږمه ماده

**مسلکي پوهه:**

څارنوال اړ دی، چې د مسلکي پوهې او د دندې د مهارتونو د پیاوړتیا لپاره په روزنیزو غونډو کې ګډون وکړي او په لاندینیو مواردو کې خپله مسلکي پوهه لوړه کړي:

۱-د قضیې د جرمي وصف تشخیص.

## فصل دوم

## معیارهای مسلکی و طرز سلوک څارنوال

### مادهٔ پنجم

**آگاهی از قوانین و تطبیق درست و بلاانحراف آن:**

څارنوال مکلف است از قوانین شکلی و ماهوی مرتبط، آگاهی کامل داشته و احکام قانون اساسی و سایر قوانین مربوط را در اجراآت خویش مورد تطبیق قرار دهد.

### مادهٔ ششم

**دانش مسلکی:**

څارنوال مکلف است به‌منظور تقویت دانش مسلکی و مهارت‌های وظیفه‌یی، در برنامه‌های آموزشی متداوم مسلکی اشتراک نموده و دانش مسلکی خویش را به‌خصوص در موارد ذیل تقویت بخشد:

۱- تشخیص وصف جرمی قضیه.

**۲- د دلایلو، مدارکو او جرمي شواهدو تحلیل او ارزونه.**
**۳- د اسنادو او حسابي او مالي پاڼو ارزونه.**
**٤- د توقیف، د حبس او حجز د بدیل استفادې د حالاتو تشخیص .**
**٥- په مسلکي اجرااتو کې د چلن د یووالي د تامین په موخه د څارنوالۍ له معیاري فورمونو استفاده.**

**اوومه ماده**

**د هوډ یا تصمیم وړتیا:**

**څارنوال اړ دی، چې د خپلې دندې د مسوولیتونو د درک او د عدالت او د رښتیاینې (تحقق) په موخه په ورسپارل شویو چارو کې د تصمیم یا هوډ نیولو وړتیا ولري، په ځانګړې توګه په لاندینیو مواردو کې:**

**۲- تحلیل و ارزیابی دلایل، مدارک و شواهد جرمی.**
**۳- بازرسی اسناد و اوراق حسابی و مالی.**
**٤- تشخیص حالات استفاده از بدیل توقیف و بدیل حبس و حجز.**
**٥- استفاده از فورم های معیاری څارنوالی به‌منظور تأمین وحدت رویه در اجراآت مسلکی.**

**مادهٔ هفتم**

**توانایی تصمیم‌گیری:**

**څارنوال مکلف است با درک مسؤولیت وظیفه‌یی خویش، به‌منظور تحقق هرچه بیشتر عدالت، توانایی و قدرت تصمیم‌گیری در امور محوله، به‌خصوص در موارد ذیل را دارا باشد:**

۱- په کشفي اجرااتو کې د کشف مسوولينو ته هدايت او لارښوونه کول.

۲- د جرمي قضيو د مظنونينو او تورنو د برخليک تعيينول.

۳- په جرمي قضيو کې د اموالو د ضبط، انجماد، مصادرې او مالک ته د استرداد وړ اموالو د برخليک تعيينول .

٤- د جرمي قضيو د رسيدګۍ پر مهال د افرادو د خصوصي حريم ساتنه او له تعرض څخه مخنيوی.

٥- پر تصميمونو او په جرمي قضيو کې د جزايي محکمو پر پرېکړو اعتراض يا قناعت.

٦- د جزايي محکمو د قطعي احکامو تنفيذ.

۷- د ښو اجرااتو د مسير يا لوري تعيينول.

۱- صدور هدايات و رهنمايی برای مسؤولين کشف جرم در اجراآت کشفی.

۲- تعيين سرنوشت مظنونين و متهمين قضايای جرمی.

۳- تعيين سرنوشت اموال قابل ضبط، انجماد، مصادره و قابل استرداد به مالک آن در قضايای جرمی.

٤- حفظ حريم خصوصی افراد و جلوگيری از تعرض بر آن، حين رسيدگی به قضايای جرمی.

٥- قناعت يا اعتراض بر تصاميم و فيصله‌های جزايی محاکم در قضايای جرمی.

٦- تنفيذ احکام قطعی محاکم جزايی.

۷- تعيين مسير درست اجراآت.

**اتمه ماده**

**په مسلکي اجرااتو کې خپلواکي او په بې پرې توګه د دندو ترسراوی:**

**څارنوال اړ دی، چې د قضیو د رسیدګی پر مهال، خپلې دندې په بې پرې او کاملاً ناپلوې توګه او له تبعیض پرته ترسره او لاندیني موارد رعایت کړي:**

**۱- په علی السویه ډول د مظنون او تورن په ګټه او ضرر د دلایلو، مدارکو او جرمي شواهدو راټولول.**

**۲- په جزایي دعوا کې د ښکېلو اشخاصو او اړخونو ناپلویتوب.**

**۳- په مسلکي اجرااتو کې د استقلالیت یا خپلواکی ساتنه.**

**٤- په قانوني تصمیمونو کې د نفوذ او د بهرنیو عواملو له اغېز څخه ساتنه.**

**مادۀ هشتم**

**انجام بی‌طرفانۀ وظایف و حفظ استقلالیت در اجراآت مسلکی:**

**څارنوال مکلف است حین رسیدگی به قضیه، وظایف خویش را با بی‌طرفی کامل، عدم تبعیض و به‌صورت غیر جانبدارانه انجام و موارد ذیل را رعایت نماید:**

**۱- جمع آوری دلایل، مدارک و شواهد جرمی، طورعلی‌السویه به نفع و ضرر مظنون و متهم.**

**۲- عدم جانبداری از طرفین و اشخاص ذیدخل در دعوای جزایی.**

**۳- حفظ استقلالیت در اجراآت مسلکی.**

**٤- عدم تأثیرپذیری از نفوذ و عوامل بیرونی در تصمیم گیر ی ها ی قا نو نـی .**

**نهمه ماده**

**د دندې له اړوندو کاري لارو چارو سره بلدتیا:**

**څارنوال اړ دی، چې په خپلو اجرااتو کې له لاندینیو لارو چارو سره پوره بلد وي:**

**۱- د کشف په مرحله کې د کشفي بنسټونو اجراات (په کشفي ادارو کې د مسوولینو واکونه او مسوولیتونه).**

**۲-د تحقیق په مرحله کې د څارنوالۍ اجراات او د تحقیق پر چارو نظارت (د تحقیق او د تحقیق پر چارو د نظارت په لړ کې د تحقیق څارنوالانو دندې، واکونه او مسوولیتونه).**

**۳- د تعقیب په مرحله کې د څارنوالۍ اجراات (د تدقیق او د دوسیو د ارزونې په بهیر کې د**

**مادۀ نهم**

**آشنایی با شیوه‌های کاری مرتبط به وظیفه:**

**څارنوال مکلف است در اجراآت و روش‌های کاری، با موارد ذیل آشنایی کامل داشته باشد:**

**۱- اجراآت نهادهای کشفی در مرحلۀ کشف (مسؤولیت و صلاحیت مسؤولین اداره‌های کشفی).**

**۲- اجراآت څارنوالی در مرحلۀ تحقیق و نظارت بر امور تحقیق (وظایف، صلاحیت‌ها و مسؤولیت‌های څارنوال تحقیق در جریان تحقیق و نظارت بر امور تحقیق).**

**۳- اجراآت څارنوالی در مرحله تعقیب (وظایف، صلاحیت ها و مسؤلیت های څارنوال تعقیب**

**تعقیب څارنوالانو دنده، واکونه او مسوولیتونه).**

**٤- د محکمو د حکم د تنفیذ په مرحله کې د څارنوالۍ اجراات (د حکم د تطبیق او تنفیذ په لړ کې د محکمو د قطعي او د حبس او حجز د بدیل پر احکامو د نظارت څارنوال دنده، واکونه او مسوولیتونه).**

**٥- د محکومینو او تورنو د استرداد په پروسه کې د څارنوالۍ اجراات او له نورو هېوادونو سره د هوکړه لیکونو بالمثل عمل).**

**لسمه ماده**

**له مراجعینو او د دعوا له دواړو اړخونو سره نېک چلن:**

**څارنوال اړ دی، چې د خلکو د باور د کچې د زیاتوالي په موخه**

**در جریان تدقیق و ارزیابی دوسیه).**

**٤- اجراآت څارنوالی در مرحلهٔ تنفیذ حکم محاکم (وظایف، صلاحیت‌ها و مسؤولیت‌های څارنوال نظارت بر تنفیذ احکام قطعی محاکم و بدیل حبس و حجز درجریان تطبیق و تنفیذ حکم).**

**٥- اجراآت څارنوالی در پروسهٔ استرداد متهمین، محکومین و همکاری‌های عدلی بر اساس موافقت‌نامه‌ها، یادداشت تفاهم و اجرای عمل بالمثل با سایر کشورها.**

**مادهٔ دهم**

**برخورد نیک با اطراف دعوی و مراجعین:**

**څارنوال مکلف است به‌منظور افزایش سطح اعتماد مردم برای**

په لويه څارنوالي کې په بې پرې توګه د قضيو د رسيدګۍ پر مهال لاندينې ټکي مراعات کړي:

۱- له افرادو او مراجعينو سره منصفانه چلن، ښه سلوک، احترام او د هغوی د انساني کرامت ساتنه.

۲- د مظنون، تورن او محجوز پر وړاندې مخکې له مخکې قضاوت کولو ډډه.

۳- په جزايي دعوا کې د افرادو او اشخاصو د قانوني حقوقو تفهيم.

٤- مظنون ته د منسوبه تور تفهيم.

٥- د تحقيق په لړ کې د مظنون او تورن د حقوقو توضيح.

٦- اطلاعاتو او په دوسيه کې مندرجو معلوماتو ته د مظنون، تورن، متخلف ماشوم او د دوی قانوني ممثل قانوني لاسرسی.

رسیدگی شفاف و بی‌طرفانهٔ قضایا در لوی‌ څارنوالی، موارد ذیل را رعایت نماید:

۱- برخورد منصفانه، رویهٔ نیک، احترام به کرامت انسانی و حفظ حرمت شخصی افراد و مراجعین.

۲- خودداری از قضاوت پیش‌گیرانه علیه مظنون، متهم و محجو ز .

۳- تفهیم حقوق قانونی افراد و اشخاص ذیدخل در دعوای جزایی.

٤- تفهیم اتهام منسوبه به مظنون.

٥- توضیح حقوق مظنون و متهم در جریان تحقیق.

٦- دسترسی قانونی مظنون، متهم، طفل متخلف و ممثل قانونی آن‌ها به اطلاعات و معلومات مندرج دوسیه.

۷- د متضرر، شاهدانو، اطلاع ورکوونکي او د جرایمو د افشا کوونکو د قانوني ملاتړ تفهیم.

۸- په فردي سلوک کې د فرهنګي ارزښتونو، دیني باورونو او د منل شویو دودونو رعایتول.

**یوولسمه ماده**

په مسلک کې د زړورتیا، خلاقیت، نوښت او پاک نفسۍ درلودل:

څارنوال باید د دندې د اجرا پر مهال لاندیني اوصاف ولري:

۱- د قانون د احکامو په رعایتونه کې د متواضع قانوني جرأت درلودل.

۲- د مسلکي پوهې او ظرفیت لوړلو ته علاقمندي.

۳- په علمي توګه د استنطاق او پلټنې له فن څخه استفاده او په اجرااتو کې تنوع.

۷- تفهیم حمایت‌های قانونی به متضرر، شهود، اطلاع‌دهنده و افشاگر جرایم.

۸- رعایت ارزش‌های فرهنگی، اعتقادات دینی و رسوم پسندیدهٔ اجتماعی در سلوک فردی.

**مادهٔ یازدهم**

داشتن شجاعت، خلاقیت، نوآوری، پاک نفسی و تعهد در مسلک:

څارنوال حین تصدی و اجرای وظیفه، مواصفات ذیل را دارا می باشد:

۱- داشتن جرأت لازم در رعایت احکام قانون توأم با تواضع.

۲- علاقه‌مندی بر بلندبردن ظرفیت و دانش مسلکی.

۳- تنوع در اجراآت به‌خصوص استفاده از فن استنطاق و روش‌های بازجویی به‌صورت علمی .

**٤- د تحقیق، تعقیب او د محکمو د حکم د تنفیذ پر مهال د عادلانه محکمو د موازینو رعایتول.**

**٥- په فردي چلن او عملکرد کې د شخصیت څرګندول.**

**٦- هڅه او هاند او د ادارې د محرمو رازونو ساتنه.**

**٧- د جزایي عدالت د تامین په موخه په مسلکي اجرااتو کې د تخصص، وړتیا، ژمنتیا، رښتینولۍ او صداقت درلودل.**

**٨- له اداري فساد سره د مبارزې او د پاک نفسۍ ژمنتیا.**

**٩- په قضایي او رسمي غونډو کې د رسمي یونیفورم اغوستل.**

**١٠- له تقنیني اسنادو سره سم په اجرااتو کې خلاقیت او نوښت.**

**دولسمه ماده**

**د بشري حقوقو او فردي ازادیو د**

**٤- رعایت موازین محاکمهٔ عادلانه در جریان تحقیق، تعقیب و تنفیذ حکم محاکم.**

**٥- تبارز شخصیت در سلوک و عملکرد فردی.**

**٦- پشت‌کار و حفظ محرمیت اسرار اداره.**

**٧- داشتن تخصص، شایسته‌گی، تعهد، صداقت و تقوا در اجرای امور مسلکی به‌منظور تأمین عدالت جزایی.**

**٨- تعهد مبنی بر پاک‌نفسی و مبارزه با هرنوع مظاهر فساد اداری.**

**٩- ملبس بودن با یونیفورم رسمی در جلسات رسمی و قضایی.**

**١٠- نوآوری و خلاقیت در اجراآت در مطابقت با اسناد تقنینی.**

**مادهٔ دوازدهم**

**رعایت معیارهای حمایت از حقوق**

**ملاتړ معیارونو رعایتول:**

**څارنوال د افرادو د اساسي ازادیو او حقوقو د مدافع په توګه باید په خپله دنده کې لاندیني موارد مراعات کړي:**

**۱- د مظنون، تورن او د حق العبد د مسوول قانوني حقوقو رعایت.**

**۲- د مجني علیه او حق العبد مدعي قانوني حقوقو رعایت.**

**۳- د جرم قرباني او د متضرر، شاهدانو او اطلاع ورکوونکو او د جرم د افشا کوونکو د حقوقو ملاتړ.**

**٤- د جزایي عدالت په برخه کې په نړیوالو مندرجو اسنادو کې د منل شویو معیارونو او پرنسیپونو رعایتول.**

**۵- د غیرضروري او ناقانوني توقیفونو مخنیوی.**

**بشری و آزادی‌های فردی:**

**څارنوال به‌عنوان مدافع حقوق و آزادی‌های اساسی افراد، مکلف است حین اجرای وظیفه موارد ذیل را رعایت نماید:**

**۱- رعایت حقوق قانونی مظنون، متهم و مسؤول حق‌العبد.**

**۲- رعایت حقوق قانونی مجنی‌علیه و مدعی حق‌العبد.**

**۳- حمایت از حقوق متضرر و قربانی جرم، شهود، اطلاع‌دهنده و افشاکنندۀ جرم.**

**٤- رعایت معیارها و پرنسیب‌های پذیرفته‌شدۀ مندرج اسناد بین‌المللی در خصوص عدالت جزایی.**

**۵- جلوگیری از توقیف‌های غیرضروری و غیرقانونی.**

**دیارلسمه ماده**

**د اړیکو مهارتونه:**

**څارنوال په اجرااتو کې د روڼتیا او د عدالت د تامین په برخه کې اړ دی، کاري محدودیتونو ته پام د اړتیا پر وخت له اړوندو بنسټونو سره په ځانګړې توګه له لاندینیو بنسټونو سره اړیکې ولري:**

**۱- له کشفي بنسټونو سره دوامداره کاري اړیکې.**

**۲- له اهل خبره یا مخښکانو سره کاري اړیکې.**

**۳- له ذیصلاح محکمو سره کاري اړیکې.**

**٤- د زندانونو له مسوولینو سره کاري اړیکې.**

**۵- د وزارتونو او دولتي ادارو د رهبری له مقاماتو او مسوولینو سره اړیکې.**

**٦- له مدافع وکیلانو او حقوقي**

**مادۀ سیزدهم**

**مهارت‌های ارتباطات:**

**څارنوال به‌منظور شفافیت در اجراآت و تأمین عدالت مکلف است، با توجه به محدودیت‌های کاری و در صورت لزوم با مراجع و نهادهای ذیربط، به‌خصوص مراجع و نهادهای ذیل؛ ارتباطات موثر داشته باشد:**

**۱- ارتباط کاری دوام‌دار با نهادهای کشفی.**

**۲- ارتباط کاری با مراجع اهل خبره.**

**۳- ارتباط کاری با محاکم ذ یصلا ح .**

**٤- ارتباط کاری با مسؤولین محلات سلب آزادی.**

**۵- ارتباط با مقامات و مسؤولین رهبری وزارت‌ها و ادارات دولتی.**

**٦- ارتباط کاری با وکلای مدافع و**

مساعدینو سره کاري اړیکې.

۷- د بشر حقوقو له مدافع بنسټونو سره کاري اړیکې.

۸- د ښځو له مدافع بنسټونو، د امن کورونو او د ښځو د ملاتړ له مسوولینو سره کاري اړیکې.

۹- د ماشومانو د حقوقو له مدافع بنسټونو، د ټولنیزو خدمتونو د مرکزونو له مسوولانو، د اړمنو ماشومانو او ماشوم له قانوني ممثلانو سره کاري اړیکې.

۱۰- له ولسي بنسټونو لکه د ولسوالیو شورا، ولایتي شورا، ملي شورا، مدني ټولنې، د مطبوعاتو کورنۍ او د رسنیو له خاوندانو سره اړیکې.

**څوارلسمه ماده**

**سازماني مهارتونه:**

څارنوال مکلف دی، چې پر

مساعدین حقوقی.

۷- ارتباط کاری با نهادهای مدافع حقوق بشر.

۸- ارتباط کاری با نهادهای مدافع حقوق زن، مسؤولین خانه‌های امن و مراکز حمایه‌یی زنان.

۹- ارتباط کاری با نهادهای مدافع حقوق طفل، مسؤولین مراکز خدمات اجتماعی و حمایه‌یی اطفال نیازمند و ممثل قانونی طفل.

۱۰- ارتباط با نهادهای مردمی مانند شوراهای ولسوالی‌ها، شوراهای ولایتی، شورای ملی، جامعهٔ مدنی، خانوادهٔ مطبوعات و اصحاب رسانه‌ها.

**مادهٔ چهاردهم**

**مهارت‌های سازمانی:**

څارنوال مکلف است بر علاوهٔ

**مسلکي ظرفیت سربېره، لاندیني سازماني مهارتونه هم زده او مراعات کړي:**

**۱- د تحقیق او تعقیب پر مهال د وخت ګټور مدیریت (په قانوني میعاد کې د تحقیق او تعقیب د پروسې بشپړاوی).**

**۲- قضیو ته پر وخت د رسیدګی په موخه د قضیو حجم ته په کتو سره د کلاري پلان درلودل.**

**۳- د غوره او ښو اجرااتو د ترسراوي په موخه د کاري چارو د لومړیتوبونو ټاکل.**

**٤- د لویې خارنوالی د ستراتیژیک پلان د سازماني ارزښتونو رعایتول.**

**۵- د دفتري چارو مدیریت.**

**٦- د سلسله مراتب رعایتول.**

**۷- د اجرااتو راپور ورکول او پر**

**دانش و ظرفیت مسلکی، مهارت‌های سازمانی ذیل را داشته و آن را رعایت نماید:**

**۱- مدیریت مؤثر زمان در جریان تحقیق و تعقیب (اکمال پروسهٔ تحقیق و تعقیب در میعاد قانونی آن).**

**۲- داشتن پلان کاری با درنظرداشت حجم و تراکم قضایا( پلان تحقیق )، به‌منظور تسریع روند رسیدگی به قضیه.**

**۳- اولویت‌بندی امور کاری به‌منظور اجراآت بهتر و مؤثر.**

**٤- رعایت ارزش‌های سازمانی مندرج پلان استراتیژیک لو ی خا ر نوا لی .**

**۵- مدیریت امور دفتر.**

**٦- رعایت سلسله مراتب.**

**۷- گزارش‌دهی و گزارش‌گیری به**

وخت د اجرااتو د راپوړونو کتنه.

۸- دندې ته پر وخت حاضرېدل.

**پنځلسمه ماده**

**د دندې د اجرا پر مهال د ګټو د تضاد نشتوالی:**

(۱) څارنوال قضیو ته د رسیدګۍ پر مهال مکلف دی، چې د ګټو د تضاد د مخنیوي لپاره د شتمنۍ فورم او د ګټو د ټکر فورم له ډکولو سره سره لاندینیو مواردو ته هم پام وکړي:

۱- د دعوا او مراجعینو ترمنځ له قومي، ژبنیو، سمتي، حزبي، ګروپي، جنسیتي او مذهبي توپیرونو څخه ډډه.

۲- د څارنوال د ګټې د موجودیت په صورت کې د قضیې له

موقع از اجراآت.

۸- حضور به موقع و پای‌بندی به وظیفه.

**مادۀ پانزدهم**

**عدم موجودیت تضاد منافع در جریان تصدی وظیفه:**

(۱) به‌منظور دفع تضاد منافع، څارنوال حین رسیدگی به قضیه مکلف است بر علاوۀ خانه‌پری فورم ثبت دارایی و فورم عدم تضاد منافع، موارد ذیل را نیز رعایت نماید:

۱- خودداری از برخورد و رفتار تبعیض‌آمیز قومی، زبانی، سمتی، حزبی، گروهی، جنسیتی، مذهبی و سایر سلیقه‌های سازمانی و شخصی در برابر اشخاص ذیدخل در دعوا و مراجعین.

۲- اجتناب از پیشبرد تحقیق و تعقیب در صورت ذینفع بودن وی

تحقیق او تعقیب څخه تېرېدل.
۳- د څارنوال د اقاربو د ګټې د موجودیت په صورت کې د قضیې له تحقیق او تعقیب څخه تېرېدل.
٤- که څارنوال د قضیې تر تحقیق مخکې د قضیې له طرفینو سره د قاضي، مدافع وکیل او حقوقي مشاور په توګه کار کړی وي، د دې قضیې له تحقیق او تعقیب څخه ډډه کول.
۵-د مظنون، تورن، مجنی علیه، حق العبد مدعي، شاهد، د جرم اطلاع ورکوونکي او افشا کوونکي پر وړاندې له تمایل او تعصب څخه ډډه.
(۲) څارنوال د وظیفې پر مهال باید له احزابو، بنسټونو او له سیاسي بهیرونو سره تړاو ونه لري او د دندې پر مهال او تر رسمي وخت وروسته د سیاسي احزابو

در قضیه.
۳- اجتناب از پیشبرد تحقیق و تعقیب در صورت ذینفع بودن اقارب وی در قضیه.
٤- اجتناب از پیشبرد تحقیق و تعقیب در صورتی‌که قبلاً به‌عنوان، قاضی، وکیل مدافع، مشاور حقوقی یکی از طرفین، شاهد و اهل‌خبره اشتراک نموده باشد.
۵- عدم تمایل و تعصب در مقابل مظنون، متهم، مجنی‌علیه، مدعی حق‌العبد، شاهد، اطلاع‌دهنده و افشاکنندۀ جرم.
(۲) څارنوال حین تصدی وظیفه به هیچ یک از نهادها، احزاب و جریان‌های سیاسی وابسته نبوده و نمی‌تواند در جریان رسمیات و خارج از رسمیات،

او بهيرونو په ګټه فعاليت نه شي کولای.

**شپاړسمه ماده**

د شخصي ګټو د ترلاسي پر مهال د موقف يا رسمي معلوماتو له استفادې څخه ډډه:

(۱) څارنوال له وظيفوي واک او موقف څخه يوازې د ورسپارل شويو دندو پر وخت په قانوني توګه استفاده کولای شي.

(۲) څارنوال چې د دندې پر مهال کوم معلومات ترلاسه کوي، په محرمه توګه يې ساتي او د يو چا د ګټې يا ضرر لپاره ترې نه استفاده نه کوي.

**اوولسمه ماده**

د ډاليو له منلو ډډه:

څارنوال د دندې پر مهال تر

به نفع احزاب و جریان‌های سیاسی فعالیت نماید.

**مادۀ شانزدهم**

عدم استفاده از موقف و معلومات رسمی در راستای به‌دست‌آوردن منافع شخصی:

(۱) څارنوال از موقف و صلاحیت‌های وظیفه‌یی خود در مطابقت به احکام قانون، تنها در امور محولۀ رسمی استفاده می‌نماید.

(۲) څارنوال مکلف است معلوماتی را که حین تصدی وظیفه دریافت می‌نماید، به‌طور محرم نگهداری نموده و از آن برای به‌دست‌آوردن منافع شخصی خود یا نفع و ضرر دیگران استفاده ننماید.

**مادۀ هفدهم**

عدم قبول هدایا و تحایف:

څارنوال نمی‌تواند حین تصدی و

کار مخکې، د کار په لړ کې یا تر کار وروسته ډالۍ نه شي منلی.

**اتلسمه ماده**

**د دیني، فرهنګي او ټولنیزو ارزښتونو رعایتول:**

ځارنوال د خپل موقف په درک سره باید دیني، فرهنګي، ملي او ټولنیزو ارزښتونو ته درناوی وکړي.

**نولسمه ماده**

**د مسلک اهمیت او د حرمت ساتنه یې:**

ځارنوال د ځارنوالۍ مقدسې دندې د اهمیت په درک سره باید خپل چلن او وینا د دغې دندې له تقدس سره برابره کړي او حرمت یې په کار محیط او ټولنه کې وساتي.

ظیفه و به ارتباط وظیفه قبل از کار، در جریان کار و بعد از انجام کار، هدایا و تحایف را قبول و اخذ نماید.

**مادۀ هجدهم**

**رعایت ارزش‌های دینی، فرهنگی و اجتماعی:**

ځارنوال با درک موقف و جایگاه وظیفه‌یی، ارزش‌های دینی، فرهنگی، اجتماعی و ملی را رعایت می‌نماید.

**مادۀ نزدهم**

**اهمیت مسلک و حفظ حرمت آن:**

ځارنوال با درک اهمیت مسلک مقدس ځارنوالی، رفتار، گفتار و کردار خود را در مطابقت به ایجابات آن عیار ساخته و در محیط کار و اجتماع، حرمت آن را حفظ می‌نماید.

## درېیم څپرکی

## متفرقه احکام

### شلمه ماده

**د اجرااتو په ارزونه کې د چلن رعایت:**

**(۱) ملکي او نظامي څارنوال باید د دې کړنلارې احکام مراعات او د اجرااتو په ارزونه کې یې پایلو ته پام وکړي.**

**(۲) کله چې څارنوال د دغې کړنلارې احکام د مسلکي دندې په ترسراوي کې رعایت نه کړي، څارنوال د کورني تفتیش څارنوالۍ ریاست له لارې، د څارنوالۍ د واکونو او تشکیل د قانون د مندرجو تأدیبي احکامو پر اساس، د لوی څارنوال تر تایید وروسته تأدیب کېږي.**

## فصل سوم

## احکام متفرقه

### مادۀ بیستم

**رعایت طرز سلوک در ارزیابی اجراآت:**

**(۱) څارنوالان ملکی و نظامی مکلف به رعایت احکام این طرزالعمل بوده و نتایج آن در ارزیابی اجراآت، در نظر گرفته می‌شود.**

**(۲) هرگاه څارنوال احکام این طرزالعمل را در اجرای وظایف مسلکی رعایت نکند، از طریق ریاست څارنوالی تفتیش داخلی، طبق هدایت احکام تأدیبی مندرج قانون تشکیل و صلاحیت څارنوالی، بعد از تائید لوی‌څارنوال، تأدیب می گردد.**

**یوویشتمه ماده**

**تعدیل:**

**دا کړنلاره د اړتیا په صورت کې د تدقیق او مطالعاتو د عمومي ریاست د وړاندیز، د عالي شورا د تصویب او د لوی څارنوال تر منظورۍ وروسته لغوه کېدای شي.**

**دوه ویشتمه ماده**

**انفاذ:**

**(۱) دا کړنلاره په درېیو څپرکو او ۲۲ مادو کې ترتیب او د عالي شورا تر تصویب او د لوی څارنوال تر منظورۍ وروسته نافذه شوې او په نافذېدو یې د ۱۳۸۷ د تلې د شپږمې نېټې «د څارنوال د مسلکي معیارونو او چلن کړنلاره» چې عالي شورا تصویب کړې وه، لغوه شوې ده.**

**مادۀ بیست و یکم**

**تعدیل:**

**این طرزالعمل در صورت ضرورت به پیشنهاد ریاست عمومی تدقیق و مطالعات، تصویب شورای عالی و منظوری لوی‌خارنوال؛ تعدیل شده می‌تواند.**

**مادۀ بیست و دوم**

**انفاذ:**

**(۱) این طرزالعمل در ۳ فصل و ۲۲ ماده ترتیب و بعد از تصویب شورای عالی و منظوری لوی‌خارنوال، نافذ و با انفاذ آن طرزالعمل سلوک و معیارهای مسلکی خارنوالان مصوب جلسۀ تاریخ ٦میزان۱۳۸۷ شورای عالی لوی‌خارنوالی، ملغی می‌باشد.**

# یادداشت: